اکادمسین سلیمان لایق

# پښتانه په لنډیو کې

## دوهمه برخه

د لنډیو مسخ کوونکې:

د فلکلوري شعرونو بیا په تېره د لنډیو د ټولنیزو ځانګړتیاوو په وجه دا محال ده چې د لنډیو د هستونې ویاړ ځانګړو او منفردو کسانو ته وروبخښل شي. هغه څه چې ځینو ښاغلو د خپلو لنډیو په نامه راټول کړي او خپاره کړي دي، یو داسې ناوړه ادبي بدعت دی چې فلکلورستانو، ژبپوهانو، توکم پېژندوکو او مؤرخانو ته یې خصوصاً په څېړنیزو برخوکې زیاتې ستونزې پیدا کړې دي.

بشریت په مجموع کې او هر ملت په جلا توګه د خپلې سابقې د کشفولو او یا د کشف شوې ساحې د لا زیاتو روښانولو لپاره په دوو سرچینو زیاته ډډه لګوي:

۱ ـ د لرغوني تمدن پر مادي آثارو لکه پاتې شوي لوښي، مسلې، ګاڼې، مسکوکات، مجسمې، د تنګ ټکور وسایل او

په غرونو او سمڅو کې کيندل شوي ليکونه او تصويرونه او د تاريخي مخروبو پر کشف شويو آثارو لکه معبدونه، سلطنتي ماڼۍ، زندانونه او د ټولو اکانو ماڼۍ، د لرغوني مهال پر معنوي ميراثونو لکه بېلابېلو بشري ټولنو روايات، فلکلورونه او اساطير. که پرېښوول شي چې دغه سرچينې په بير حمانه توګه ويجاړې او مغشوشې شي لومړنۍ بربنډه نتيجه به يې داوي چې د اجتماعي پوهنو تاريخي څېړنه به چې حقيقت ته د رسېدو لپاره دې عيني زيرموته اړتيا لري، زياته زيانمنه شي. تر هغه ځايه چې د فرهنګ په معنوي پاته شونو پورې اړه پيدا کوي، په هغوی کې کمی او زياتی راوستل او يا د اساطيرو د تنقيص او تزئيد او يا د هغوی په خټه او جوهر کې د لاس وهنې او تصرف له لارې، کوم شخص ته د هغه منسوبول او يا د اسطوره يې نګېرنو د تعريفولو او په هغه کې د نوتونو او اعلامو د بدلولو له لارې د اسطوره يې داستانونو په بڼه او د نويو اسطورو جعل کول، په رڼه رڼا ورخ غلا کول او د تاريخ مسخ کول دي. همدا راز هغه کسان چې د ولسي لنډيو د ثبتولو او د هغوی د فکر او فورم د غلا کولو او مسخ کولو له لارې د خپلو ځانګړيو مجموعې او ديوانونه خپروي د اسطورو او فلکلورنو په مسخ کوونکو او ادبي جعلکارانو کې شمېرل کېږي. په ورستيو کلونو کې چې لنډيو مقبوليت پيدا کړی دی او د نړيوالو پاملرنه يې ځانته رااړولې ده، له دې سره غبرګ دا ستونزه هم رامنځ ته شوې ده چې ځينې ښاغلي د ځاني لنډيو هستولو او چاپولو ته هڅېدلي دي. ځيني خو لا د پښتني فرهنګ ودې ته د خدمت په نيت داسي هم کوي چې

خپلې لیکلې لنډۍ له ولس څخه رټېلو شویو لنډیو سره په مخلوطه توګه او بې تفکیکه چاپ ته رسوي او خپروي یې. په کال ۱۹۷۷م کې د پېښور پوهنتون پښتو اکیډیمي د محمد ادریس صاحبزاده د خپلو لیکلیو لنډیو یوه مجموعه چې (ټپې او د شعور رود) نومېږي، خپره کړه او په دې توګه یې لار پوره داسې بدعت ته خلاصه کړه چې د پښتو فلکلوري شعرونو د تاریخي شجرې او سرچینو تحقیق او څېړنه یې له ستونزو سره مخامخ کوله. د ځانګړو ټپو یو بل مصنف ښاغلی سیداکبر صابر دی چې (روهي سندرې) په خپله سریزه کې د ده په باب لیکي: «که مور د سید اکبر صیب دېپې د نظر لاندې وساتو د (ټپو) د مصنف په دعوی یې د عوامي ټپو محموعه څه موده کېږي شائع کړې ده او پروفیسر افضل رضا پرې سریزه لیکلې ده».

پروفیسر رضا لیکي: «د خور صابر صیب د ټپو په حقله زما نا پوهه او کم علمه دا خیال دی چې په دې میدان کې ډېر کم ښاغلي د هغه سره زغل کولی شي....» په مقدمه کې وړاندې په دې باب داسې لیکل شوي دي: «دا څه د اعتراض خبره نه ده چې ښاغلي صابر ټپې تخلیق کړې دي بلکې اصل خبره دا ده چې په دغې محموعې کې ډېرې ټپې داسې دي چې هغه په ټوله پښتونخوا کې عالمګیر شهرت لري، هر چاته یادې دي، ولې بیا هم ښاغلی سید اکبر ورته خپل تخلیق ولیې او ښاغلی پروفیسر رضایې تصدیق کوي.»

د لنډیو یوه بله ټولګه په ۱۹۹۷ میلادي کال په امریکا کې یوه افغاني روښانفکر محترم سیداګل غریبیار لیکلې او

راټوله کړې ده. دا مجموعه د ختیځ کلتوري ټولنې په پېښور ښار کې خپره کړې ده. په دې مجموعه کې ګرد سره ۳۷۱۵ لنډۍ چاپ شویدي او ټولګه په خپل محموع کې د ښاغلي سیداکبر صابر ټولګې ته ورته دهؤ خو ښاغلی غریبیار په امانتداری کې له ږاغلي صابر سره دا توپیر لري چې هغه د خپلې محموعې تر عنوان لاندې بې ابهامه ځان د لیکونکي او راټولوونکي په توګه ښوولی دی. لیکن د کتاب په متن کې یې د ولسي لنډیو او د خپلو لیکلیو لنډیو تر منځ هیڅ راز تفریق ندی کړی او له دې کبله هغه تاوان چې د ښاغلي د ښه نیت په نتیجه کې د لنډیو د اصالت او شجرې پېژندلو تحقیقي زمینې ته رسېدلی دی په هیڅ توګه د ښاغلي صابر تر ورانکاریو کم ندی. د ولسي ادب هر عالم او څېړونکي په دې پوهېږي چې لنډۍ وحي منزل نده او په لومړي سر کې لکه هر بل شعر یوه منفرد سړي احساس کړې او ویلې ده، خو بیا وروسته د محیط په ټولنیز فرهنګي تعامل کې نورو بې شمېره کسانو هغه کمه کړې، زیاته کړې او یا یې تغیر ور کړیدی. په باوري توګه اټکل کېدای شي چې ډېرې لنډۍ له اجتماعي محیط سره د نه تطابق په وجه د تولد او هستېدو له پیل سره په نیږدې موده کې له منځه تللې دي. په دې باره کې به وروسته د لنډیو د قانونمند تغیر او بدلون تر سر لیک لاندې مفصل بحث وشي، دلته یوازې د دې ټکي وضاحت ضروري دی چې د لنډۍ د هغو مصنفینو کار نه تائید کېږي چې په خپل نوم د لنډیو ټولګې او مستقلې مجموعې خپروي او ادعا کوي چې په دې کار پښتو عامیانه ادب ته خدمت کوي. فلکلورونه چې

عرب يې عاميانه ادب بولي او په پښتو کې لا يو متفق عليه نوم ندی ورته ځانګړی شوی او په اولسي ادب، د خلکو ادب او ناليکل شوي ادب نومول کېږي، د ادبياتو هغه برخه ده چې ځانګړو کسانو او منفردو اشخاصو ته نه ده منسوبه او خلکو د مشترک فرهنګ د تېرو او هېرو پېړيو آثار او پاته شونی په ځان کې ساتلي وي. نيږدې له اتلسمي پيړۍ را په دېخوا دغه ادبيات د بېلابېلو اجتماعي پوهنو د تاريخي اړخونو د پلټلو او څېړلو د اسنادو او شواهدو په توګه کارول کېږي. که څه هم د وروستيو پيړيو تخنيکي پرمختياوو په صنعتي هسوادونو کې د فلکلوري ادبياتو د دوام طبيعي بهير اغيزمن کړيدی خو په هغو اهوادونو کې لکه افغانستان چې لا تر اوسه د کلي او کيږدۍ ټولنيز مناسبات ادامه پکې لري او فلکلورونه د پرمختيا د ځيني منفي اغېزو په پار ډېر نه دي زيانمن شوي، په کار ده چې د فرهنګي محيط د سلامتيا د ساتلو لپاره د ټولنې د لرغونو رواياتو (فلکلوري عنعنو) ساتنې ته کلکه پاملرنه وشي، تر څو له دې بابته هغو اسطوره يې فوصيلونو او تاريخي بېلګو ته زيان و نه رسيږي چې موږ د خپل تاريخ او فرهنګي اصالت د څېړلو او پلټلو لپاره اړتيا ورته لرو.

لنډۍ چې د پښتو فلکلوري شعر تر ټولو عامه او پراخه برخه ده، د پورتنيو معلوماتو په اساس عملاً د نا امنۍ او لوټېدلو په خطر سره مخامخ شوې ده. د صابر صاحب او غريبيار صاحب د لنډيو مجموعې سره له دې چې په ښه نيت او پښتو ادب ته د خدمت په روحيه ترتيب شوې دي، خو د دوی دغه ښه نيت د هغو لنډيو اصالت او علمي اعتبار بالکل پوپنا

کېږي‌دی کومې چې دوی په خپلو دغو ټولګو کې راټولې کړې دي. کیدای شوای چې دوی د بېنوا صاحب په توګه د لنډیو په خپرولو او ترویج کې خپله لېوالتیا د لنډیو د یوې منتخبې مجموعې د خپرولو له لارې تسکین کړېې وای او خپلې حوړې کړېې لنډۍ یې په ولسي لنډیو نه ور ګډې کړېې او د دې زیانمن بدعت بنیادې نه وای ایښی. لنډۍ د پښتون ولس شریک تخلیق دی او د هغې په هستولو کې د ولس د مختلفو نسلونو لسهاوو زره وګړو ګډون کړی دی. د دغو ولسي لنډیو او د کوم معلوم فرد د لنډۍ د اهمیت او ارزښت تر منځ هومره توپیر شته دی څومره چې د وګړي او ولس د اهمیت تر منځ شته دی. پر دې سربېره زموږ دعوه دلته تش د ولسي لنډیو او فردي لنډیو د ارزښتونو په پرتله کولو پورې هم محدوده نه ده بلکې د هغوی د تاریخي قدامت او تاخر موضوع هم رانیسي او په دې اړه د هغو ټولو اجتماعي پوهنو له نظره یې مقایسه کوي چې د خپلو څېړنو او پرمختګ لپاره د فلکلورونو پلټلو او مطالعې ته اړه لري. لکه څنګه چې لرغون پېژندونکې د تاریخ د پرابلمونو د حل لپاره د لرغونو ښارونو او پخوانیو آثارو راسپړلو ته اړه لري هماغومره د فلکلورونو او له هغې جملې څخه د لنډیو مطالعې، راسپړلو او څېړلو ته اړ دي. اوس چې واقعیت دغسې دی، د فلکلوري لنډیو د سپېڅلتیا ساتنه د وطن او علم په اړه د هر ادب پېژندونکې وطنوال دنده ګرزي. د دې وظیفې لومړنی پړاو دا دی چې د فلکلورونو هغه بهیرونه کوم چې د لسهاوو پېړیو پر پېچومو تر موږ پورې رارسیدلي، له مغسوسولو او بې ټیکانې کولو څخه

وساتو او په خپلو لاس زهنويي مسخ او مغسوشې نه کړو او داسې و نه نګېرو چې ګواکې موږ کولای شو د خپلو جوړو کړيو لنډيو په ورګډولو د فلکلوري لنډيو زيرمه شتمنه کړو. نتيجه به قطعأ د دې خلاف وي او زموږ ښه نيت به په بده واوړي او د لنډيو د مسخ کېدو او بې اعتباره کېدو سبب به شي. د رواني هجري شمسي پېړۍ په پنځوسمو کلونو کې چې ما د هيوادمل په غوښتنه د زيرې په جريدې کې د لنډيو په باب يو لړ مقالې خپرولې، يوه مشهور اديب پر لنډيو باندې د بحث پر وخت ما ته د ګيلې په غاړه وويل:....تا ته زما ډېره هيله وه چې د لنډيو په اصلاح کې به خپله توره وځلوې، خو تا هم هماغه د پښتو ټولنې شډلې او ناتراشه لنځۍ په خپلو مقالو کې راواخيستې او هو به هو دې اقتباس کړې. په کار خو داوه چې د هغوی تر افتباس وړاندې دې په هغه کې مناسب اصلاحات راوستي وای...(الفاظ زما خپل دي که څه کمی و زياتی په کې شوی وي د هغه دوست له روحانيت څخه چې اوس وفات شوی دی بخښنه غواړم، د هغه دوست شخړه له ما سره ډېره اوږده شوه، په پای کې ما هغه ته د لنډيو د اصلاح کولو د ناوړتيا په باب د خپل خدای بخښلي پلار له خولې اوريدلې قصه ورته تېره کړه: په پخوا زمانو کې چې د چاپ صنعت نه و راپيدا شوی او د قرآن کريم نسخې به په لاس ليکل کېدې او خورا کم پيدا وې، د ګوتو په شمار کسانو به د قرآن شريف کومه نسخه د قرائت او تبرک لپاره په ډېر عزت او پاملرنې په کور کې ساتله. په هغو وختونو کې يو داسې سړی او سېده چې د تلاوت لپاره به يې له هر چا څخه د قرآن

شریف د امانت کولو سوال کاوه، خو کله چې د هغه تلاوت پای کړ بیا به یې متې راونغښتې قلم او مشوانۍ به یې راواخیسته او د خپل اټکل سره سم به یې د قرآن په الفاظو کې سموني کولې، ورو، ورو د ده دغه بد خصلت خلکو ته څرگند شو او بیا به هیچا ده ته په هیڅ توگه خپل قرآن د تلاوت لپاره نه ورکاوه. خو یوه ورځ یې یو مهربانه سړی پیدا کړ او په ډېره تضرع او عذر یې له هغه شخه د لنډمهال لپاره د ده د قرآن نسخه د تلاوت په پلمه په ودیعت وغوښته او غلیظ شوگندونه یې یاد کړل چې که په نسخه کې هر څومره فاحشه غلطي هم موجود زي دی به گوتې نه وروړي. د هغه سړي په زړه د رحم او به توی شوې، د ده په سوگندویې باور وکړ او خپل قرآن یې ده ته په امانت وسپاره خو کله چې تلاوت کوونکي څه موده پس د وعدې مطابق قرآن مجید بېرته د هغه خاوند ته سپاره، د قرآن خاوند له هغه شخه په تکرار او اصرار پوښتنه زکړه چې گوره وسړیه که دې بیا هم زما د قرآن په نسخه کې کومه تېروتنه سمه کړې وي، ښه دې کړې دي، خو ما پې خبر کړه. مخاطب وورو ورو د قرآن د خاوند په هڅونه راوسپخېده او په شونډو یې د مسکا شپه راغبرگه شوه او د قبول په علامه یې سر وښوراوه، وې ویل: په ځان مې ډېر زور راووست چې تېروتني په خپل حال پرېږدم خو دوه ځایه بیدر که سخت غلط وو. ما وې دا خو لویه گناه ده چې دغه فاحشي غلطۍ د خدای په کتاب کې پاتې شي، نو مې قلم او مشوانۍ راواخیسته، د سوگندونو کفاره ته مې ملا وتړله او غلطۍ مې سمې کړې. د قرآن خاوند چې له سره ترنو کانو د

غوسې له زهر ډک شوی و، وې ویل: هغه غلطۍ کومې دي؟ مصحح مسکی شو، شونډې یې پرانستلې وې ویل: لومړی دا چې په یوه ځای کې راغلي وو «و خر موسی صاعقا» ما وویل چې موسی علی نبینا و علسه السلام خو خر نه درلود، خر خو عیسی علیه السلام درلود نو دغه آیت مې داسې تصحیح کړ: «و خر عیسی صاعقا» بل ځای بیا داسې راغلي وو. «و عسی عیسی» یړیه دا څه کوي؟ عیسی (ع) بیا چېرې عصا لرله، عصا خو د موسی وه، نو دغه آیت شریف مې داسې تصحیح کړ «و عسی موسی» او حق مې حقدار ته ورساوه....! کله چې ما قصه دې ځای ته راورسوله هغه حقدار دوست ته مې وویل: د خدای او خلکو په اماناتو کې لاس وهل دغسې زیانمنو او ناروا پایلو ته رسېږي. او په لنډیو کې لاس وهنه چې د خلکو امانات دي د پای او پایلې له پلوه لا زیاته زیانمنه ده، ځکه چې خلک په خپل حق ډېر سختګیره دي.

له ۱۳۳۴ هجري لمریز کال څخه راوروسته چې پښتو ټولنې د لنډیو او نورو پښتو فلکلوري شعرونو د سندرو لومړنۍ مجموعه خپره کړه په افغاني منورینو بیا په تیره د ادبیاتو او مطبوعاتو په چاپېریال کې پښتو فلکلورونو ته پام وواوښت. هغه وخت ډېر کم کسان په دې پوهېدل چې فلکلورونه په لاس وهلو او صیقل کولو خپل ارزښت او اهمیت له لاسه ورکوي او د هغه کمال په همدې کې دی چې پخپله لرغوني جامه او اصلي ماهیت کې خوندي او تر استفادې لاندې راشي. خو آفرین دې وي په هغو استادانو چې د دې شلېدلو مرغلرو په راټولولو او خوندي کولو باندې

يې جرات و کړ او د ټولو شويو لنډيو سپېڅلتيا او اصالت يې وساته. ارواښاد رښتين صاحب د «پښتني سندرې» په مقدمه کې په څرګنده توګه لنډۍ د آريايي ويدونو همځولې وبللې او په دې توګه يې وښووله چې د هغه وخت د پښتو ادب مشران د ولس د لرغونو ادبي پانګو په ارزښت پوهېږي او د هغه پالنه او ساتنه کولای شي. بېنوا صاحب خو چې ما له هغه سره د نيږدې همکارۍ او دوستۍ وياړ لاره د فولکلورونو په باره کې علمأ وارد سړی و او د اولسي ادب په راټولولو، تدوين او څېړلو کې يې د ځوانو ليکوالو زيات ملاتړ او پالنه موله. خو د داسې حقيقت ته رسېدليو ليکوالو او استادانو شمېر ډېر محدود او د دې په عکس د هغو نويو راوېښو شويو ارمانجنو منورينو تعداد زيات و چې د پرابلمونو د علمي څېړلو په ځای به يې له هغوی سره عاطفي معامله کوله او خپل ملي احساسات به يې د يړو اصولو او علمي قاعدو پر ځای کارول. په دغو منورينو کې يو نيم داسې کس هم موجود و چې د لنډيو د ټولولو، پاللو او څېړولو په باره کې يې غلط نظريات لرل. زه تې بحث ته ژور نه ورننوزم ځکه چې په دې صورت کې به مجبوريم چې مشخص او عيني مثالونه وړاندې کړم او د ټاکلو وګړو نومونه واخلم او د يو داسې پراخې جګړې په لور لار پرانيزم چې زما دغه پاتې محدود عمر ټول خپل ځان ته ځانګړی کړي. اوس چې نيږدې نيمه پېړۍ په هغه مهال اوښتې ده او د هغه وخت تاوده زلميان د پخوالي او عقلي رشد درجې ته رسېدلي دي لاهم د فرهنګي کار په سيمه کې د احساساتو او ذهني نګېرنو تاو او زور ندی پای شوی او

د صابر شاه او ښاغلي غریبیار په څېر زلمیان پیدا کیږي چې پښتو ته د خدمت په نیت د لنډیو بې ساري پانگې ته زیان رسوي.

د لنډیو په برخه کې د ناقص او زیان رسوونکې کار د نمونې په توگه غوره گڼم چې د محترم غریبیار صاحب د لنډیو مجموعه له یوه ځانگړي او مشخص پلوه وڅېړم. په کال ۱۹۶۹ کې دنمارکي محقق جونز انولډسن (Jens Enevoldsen ) د « سپوږمیه کړنگ وهه راخېژه» تر نامه لاندې د پښتو متلونو او لنډیو یوه غوره کړې مجموعه د هغې له انگریزي ژباړې سره یو ځای خپره کړه. هغه د خپلې مجموعې لپاره دغه نوم د یوې مشهورې لنډۍ له لومړنۍ کرښې څخه اقتباس کړ. دغه محقق لکه ډېر نور غربي څېړونکي د لنډیو د لرغوني اصالت او تاریخي اهمیت تر اغېز لاندې د دغې مجموعې په مقدمه کې ولیکل « ... کله چې لرغونو آریایانو خپل مذهبي سرودونه کمپوزول، د هغوی بحر (۷) او ضربې (۸) ته به یې زیاته پاملرنه کوله عام بحر سلوکا (۹) نوماند دغه بحر له ۲۴ هجاوو څخه په دوو برابرو یا نابرابرو کرښو کې جوړېده یعنی د برابرو کرښو اوږدوالی به دوولس دوولس هجاوې و، او د نابرابرو به یو بل سره توپیر لاره، خو په دواړو ښو کې به د هجاوو مجموعي شمېر هماغه ۲۴ و.» خو زه هغه څه ته چې په ټپه کې یې له ۲۲ هجاوو او ۹ + ۱۳ بحر سره ارو ایرانتیا وړی یم. دا د آریایي سرودونو یوه بې سارې زړه نمونه ده.

ښاغلی ( جونز) اټکل کوي چې د لنډیو ۹ + ۱۳ بحر د

قدامت په لحاظ د سومابوټو د ټولولو مهال ته سر باسي، دی د خپل دغه نظر لپاره پر دغه لنډۍ استناد کوي :

« سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه
يارمې د ګلو لو موي ګوتې رېبينه »

دی وايي دغه ټپه موږ ته د هغو نجونو په باره کې قصه کوي چې شپه مهال به د غرونو څوکو ته د ګلانو د رېبلو لپاره ختلې. دی وايي نن په پښتنو کې د داسې کوم دود ساری نشته، خو (دې ته ورته) د ویدي مذهب د شعایرو يو بنيادي دود د سوما په بوټي پورې اړه لري کوم چې د هغه له شيرې څخه به يو راز مستوونکی چښاک جوړېده. د کال په يوه ټاکلي مهال به ځواني نجونه د شپې له مخې غرونو ته ختلې، چېرې چې د سوما بوټي به زرغونېدل او هلته به يې د نڅاوو له مراسمو سره يو ځای دغه مقدس ګلان رېبل. دی وايي: په بر سوات کې يو غر (دنجونو سر) نومېږي، زه وايم ښايي تر دې نن پورې به هم د دغه غره د پاسه د سوما بوټی زرغونېږي.

ښاغلی جونز د پورته ذکر شوې منفردې لنډۍ د څرک په رڼا کې هومره د پښتنو د لرغوني فرهنګ د ښکلا او ژورتيا اغيز لاندې راغی چې د غوره لنډيو او متلونو يوه بشپړه رساله يې د هغوی له انګريزي ژباړې سره يو ځای تنظيم او خپره کړه. خو که جونز ذکر شوې لنډۍ د چا په شخصي مجموعه کې ليدلې وای هېڅکله به يې د لنډيو د يوې لرغوني نمونې په توګه نه و کارولې او په دومره اهميت به وورته قايل شوی. ياده شوې لنډۍ د ښاغلي غريبيار په هغه مجموعه کې هم چاپ شوې ده چې وړاندې يې تفصيل راغی خو له نيکه مرغه

د ښاغلي جونز رساله دغريبيار صاحب تر يادې شوې مجموعې نيږدې ۲۸ کاله وړاندې خپره شوې ده او ښاغلي جونز ته د لنډۍ د اصالت په باره کې شک نه پيدا کوي.

د منفردو کسانو له لوري د شهرت او مادي گټې د جلب په مقصد په خپل نامه د فولکلوري لنډيو خپرول او ناخبرو خلکو ته د هغوی عرضه کول د هغو لرغونو تاريخي آثارو له لوټلو او قاچاقولو سره هيځ توپير نه لري کوم چې د هيواد له موزيمونو او سپړل شويو ړېريو څخه په پټه رااېستل کېږي او تالا مبږي.

زما خپل نظر دا دی چې د فواکلورونو تالان د زيان له پلوه د لرغونو توکو تر تالان هم تېری کوي او دا ځکه چې لرغوني توکي د خپل اصالت او هويت په اعتبار بازار ته عرضه کېږي او په هر لاس کې چې وي خپله مبداء او هويت نه بدلوي خو غلا شوي او مسخ شوي فولکلورونه د تاريخي توکو په عکس د غلو او مسخ کوونکو تر نومونو لاندې تر خپرېدو وروسته خپل اصالت او هويت له لاسه ورکوي او له علمي اعتبار څخه لوېږي. ځکه خو د فولکلورونو غله د لرغونو آثارو تر غلو ملي فرهنگ ته زيات تاوان رسوي.

داچې دغسې جعليات په اخلاقي لحاظ څومره ناوړه دي، ثبوت ته اړتيا نشته. کومه نيمگړتيا چې د فولکلورونو د مغشوشېدو په وجه د فرهنگي شتمنيو سلامتيا ته ور اړوي هغه دا ده چې دغه جعليات د څېړنو د پرمختگ او د سرچينو د پيدا کولو په لاره کې خنډونه پيدا کوي. کله چې پوهان د څېړنې په مهال د خپلو غوره شويو بېلگو او د غلا شوو آثارو تر منځ

ورته والی ويني، پر خپلو ټولو راغونډو کړيو نمونو باندې بې باوره کېږي. ځکه خو د دې راز جعلياتو تشويقول او رواجول که عمدي وي که غير عمدي، که په ښه نيت وي که په بد نيت ناوړه پايلو ته رسيږي او د تاريخ د مغشوشولو او د سر چينو او اسنادو لې اعتباره کولو پايلې رامنځ ته کوي.

په فولکلوري سندرو کې او له هغې ډلې څخه په لنډيو کې د لاس وهنې او مالکانه تصرف د ډېرو موجباتو په ډله کې يوه عمده موجبه دا هم ده چې پښتنو ادب پوهانو، د فولکلور تالاکوونکو او هغو خطاکارانو ته چې د ثقافتي خدمت په نيت عملاً فولکلورونه مسخ کوي، هېڅکله هم د انتقاد گوته و نه نيوله او هغوی يې د خپل زيان رسوونکې کار په منفي پايلو پوه نه کړل که څه هم کره کتونکې محتسب يا پوليس نه دی چې څوک په زوره لارې ته سم کړي خو هغه يو بې غرضه ناصح هم نه دی بلکې قاضي دی او د قضاوت کولو دنده ورپه غاړه ده. د ادبياتو له داسې څېړونکو او مؤلفانو څخه لکه حبيب الله رفيع، پروفيسور سيال کاکړ، سر محقق زلمی هيوادمل او پروفيسور محمد نواز طائر سرهخ دا نه جوړيږي چې د چا د سخصي رعايت لپاره او د دې په خاطر چې له سره په يوه ستونزمن جدل کې مخامخ نشي، په خپلو دندو او د علمي انتقاد پر موازينو سترگې پټې کړي. خو دوی د خپلې وړتيا او صلاحيت باوجود کله چې د کره کتونکې څېړنې له عمومي ساحې را دورې، له مشخصو مسالو سره مخامخ کېږي، نگوښې او لکه تر هېدلی آسو نه نوک نيسي او تېروتلي خطا کاران په خپله زيان رسوونکې تېروتنه کې پر بېردي او په دې

SPINTA

توګه د هغوی د تقصیر یوه برخه په غاړه اخلي.

رفیع او هیوادمل د افغاني فولکلور پېژندونکو په منځ کې له فولکلوري څېړنو سره تر هر څه زیات مصروف شوي دي. زما په خیال دوی د هغو فولکلور ورانوونکو د کار په ناوړو عواقبو تر هر چا ښه پوهېږي چې د لنډیو وزن کاروي او یا تر خپلو نومونو لاندې د هغو لنډیو ټولګې خپروي چې لکه بې شپونه رمې د پښتونخوا په غرو، درو او کڅونو کې توشپل شوې او غلو غدویو ته وریاتې دي. خو دوی د دغو غلو او مسخ کوونکو له اړخه بې غږ او غوږه او په مسالمت آمیزه توګه تیرېږي او د هغه قاضي په دریځ کې څرګندېږي چې د مصلحت او ملحوظاتو په وجه د زړور قضاوت جرات تر ېنه سلب شوی وي. خو کله چې انتقادي بحثونه عامو سیمو ته راوزي دوی بیا ړېرې خبرې لري او په هر څه پوهېږي، که څه هم د محافظه کار عادت په توګه دلته هم په خلاص مټ توری نه وهي. په دې باب به د رفیع صاحب د کار د طریقې یو مثال راوړو. دې لیکي: «خواص او لوستي شاعران چې ولسي سندرې لکه لنډۍ، غاړې او نوز جوړوي او یا د عامیانه شاعرۍ چاربیتې او بدلې رامنځ ته کوي، د دې مخنیوی څوک نه شي کولای، خو که دوی دا تخلیقات څوک جذب کړي، د خلکو خولو ته واوېږي او د دولسي نقد له مېچنې راووزي یعنې ډله ابزې لاس وهنې او سمونې پکې وشي و موږېې د عامو خلکو له خولو ثبت کړو بیا نو حرج نشته چې ولسي سندرې ورته ووایو خو بیا به د ولسي سندرو عام قانون پلاې تطبیق شوی وي او بې شاعره پارچه به بلله کېږي.» خو

رفیع صاحب د فولکلور تر هر پښتانه محقق، په دې حقیقت ښه پوهېږي چې د ټولنې د عادي بهیر کې د فولکلورونو پخېدل او په ټولنه کې ترسب کول، یوه اوږده مهالې پروسه ده او کره کتونکې دومره نیکمرغ نه دی چې د منظومو فولکلورونو د هستېدو، پخېدو او ترسب دغه اوږد بهیر په خپله او بې واسطې وازمویي. له رفیع صاحب غوندې یو مجرب ادب پېژندونکي شخصه دا توقع کېدای شي چې په داسې یوه مهم مورد کې بیا په تېره هلته هغو «خواصو او لوستلو شاعرانو» ته خطاب کېږي کوم چې په ولسي سندرو کې مداخلت کوي، لنډۍ او غاړې جوړوي، په خلاصه ژبه وغږېږي او د یوه ذمه وار منقد له دریځ شخصه هغوی ته په ډانګ پېیلې وو ایي چې دوی د لنډیو په وزن کې د ځاني لنډیو د جوړولو او یا له فولکلوري لنډیو سره خپلو لیکلیو لنډیو د یو ځای کولو له لارې د پښتني فولکلور امانت او اصالت ته زیان رسوي او د خپلو خلکو هغه ثقافتي زېرمه چې ډېرو پخوتنیو زتانو ته سر باسي، له تاریخي او علمي اعتباره راغورځوي. دا بیا د رفیع صاحب او د فولکلور د نورو کره کتونکو د ذمه وارۍ پېټی نه سپکوي چې وو ایي د لنډیو په لیکلو کې د چا مخنیوي نشي کولای. هېڅوک له کره کتونکي شخصه د پولیس او محتسب کار نه غواړي، هغه یو قاضي دی، د جائز او نا جائز پوله ټاکي او حق له ناحقه بېلوي.

زلمی هیوادمل چې د پښتو ادب په پاللو، راټولولو، چاپولو او څېړلو کې زموږ د دوران یو بل منلی او غښتلی عالم دی او د ډېرو هلو ځلو په ترځ کې د فولکلورونو له راټولولو

سره هم بوخت دی په خپل کتاب (پښتو ولسي ادبيات) کې د فولکلوري شعرونو او په دې ډله کې د لنډيو د جعل کوونکو په باره کې داسي ايکي: «د شاعرانو، فرهنګيانو او نيمه ولسي شاعرانو له خوا جوړې شوې لنډۍ او کاکړۍ سره له دې چې کم ارزښته دي او هيڅ ډول کليوالي او ولسي خصوصيت نه لري، له اصلي لنډيو او کاکړيو سره د ګډېدو او د اصلي سندره د بدرګګولو خطر يې محسوس دی. د ادب پوهنې د روشونو له مخې موږ بيا هم دغو شاعرانو او نيمه ولسي ناظمانو ته نه شو ويلای چې تاسو لنډۍ او کاکړۍ مه جوړوئ، ځکه شاعر، ناظم او ليکوال ته دستور ورکول له علمي روشونو مخالف کار دی. شاعر کولای شي غزل وليکي، لنډۍ جوړه کړي يا کاکړۍ، اما کيدای شي دغه شاعران پخپله دا فکر وکړي چې د دوی جوړې کړېې لنډۍ يا کاکړۍ له کلي والو طبيعي لنډيو او کاکړيو سره ګډېدو په صورت کې د دغو سندرو فولکلوري حيثيت ته تاوان رسوي. که له خپل فولکلور سره د مينې په خاطر ترې صرف نظر وکړي نو به ډېر ښه کار کړی وي، که نه نو څوک دستورر نه شي ورته ورکولای چې ته لنډۍ مه جوړوه. خو فولکلور جوړوونکې بايد پوه وي چې د شاعرانو، ناظمانو، نيمه ولسي شاعرانو، ملايانو او ميرزايانو جوړې کړيې لنډۍ نه فولکلور دی او نه يې کلي والي ولسي سندرو سره د يو ځايکيدو څه جواز شته» (مخونه ۷۰ـ ۷۱ ښتو ولسي ادبيات د لاهور چاپ)

که څه هم د هيوادمل صاحب په کره کتنه کې، د لوستو خواصو له لوري د فولکلوري سندرو په وزنونو او ښو

کې ليکل شويو آثارو ته ګوت نيونه نسبت د رفيع صاحب تر ګوت نيونې زيات صراحت لري، خو په پای کې هماغه د رفيع صاحب پورتنۍ بې ګټې يادونه دی هم تکراروي او په پسته غاړه وايي: « که له خپل فولکلور سره مينې په خاطر ترې صرف نظر وکړي نو بيا کار به يې کړی وي، که نه نو څوک دستور نشي ورته ورکولای چې ته لنډۍ مه ليکه....»

SPINTA